د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# عمامه پهٔ سر کول

د 4 جون 2026



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1):** پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: **5** منټه **(2):** دُعا یادول: **5** منټه

**(3):** [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، **ټول وخت:** **15** منټه-

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې پهٔ **72 نیک اعمال** کښې **د یو نیک عمل** د **عمامې شریفې پهٔ سر کولو** پهٔ باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او **پهٔ آئینه کښې د کتو پهٔ وخت لوستلے کیدونکې دُعا** به یادولے شي- پهٔ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

# عمامه پهٔ سر کول

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک:** د نمونځ نه پس حمد او ثنا او درود شریف لوستونکي ته یې وفرمائیل: دُعا کوه قبلیږي به، سوال کوه درکړے کیږي به-[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نیک عمل نمبر 55

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ سُنَّتو باندې د عمل کولو او د ګناهونو نه د بچ کیدو د پاره د اِسلامي خوئیندو، د اِسلامي وروڼو او د طالبِ علمانو د پاره د سوالونو پهٔ شکل کښې د نیک اعمال مختلفې رسالې جوړې کړې دي- نن به مونږ د 72 نیک اعمال رسالې نه د **نیک عمل نمبر: 55** پهٔ باره کښې زدکړه کوو-

[1] ...نسائی، کتاب السهو، باب التجميد والصلاة ...الخ، صفحه:220، حدیث: 1281۔

**نیک عمل نمبر:** 55 آیا نن تاسو عمامه شریف پهٔ سر کړې وه؟

## عمامه څهٔ ته وئیلے شي؟

داسې کپړه پهٔ سر باندې تړل، د کومې چې کم از کم درې ولونه په سر راتاؤ کړے شي دې ته **عمامه** (پټکے)وئیلے شي۔

**وضاحت:** بعضې خلق وړوکے شان رومال د کوم نه چې پهٔ مشکله دوه ولونه تاؤیږي، د سر نه راتاؤ کړي، دا عمامه نهٔ ده او نهٔ د دې سره د عمامې سُنَّت ادا کیږي۔

## د خوږ مصطفٰے ﷺ فرمان مبارک

عمامه پهٔ سر کوونکي ته به د قیامت پهٔ ورځ د هر وَل پهٔ بدل کښې یو نُور عطا کولے شي۔ [1]

## د عمامې پهٔ سر کولو متعلق احکام

**(1):** د عمامې پهٔ سر کول سُنَّت مبارک دي۔ [2] **(2):** د عمامې شریفې اوږد والے کم از کم دوه نیم گزه او زیات نه زیات 6 گزه کیدل سُنَّت دي. [3] او پلن والے یې نیم لاس (یعنې چې د لاس د گوتو نه ناپ کول شروع کړې نو د مړون د نیمې) پورې پکار دے۔ د دې نه پهٔ لږ کم یا زیات کښې هیڅ باک نشته۔ [4] **(3):** دومره وړوکے رومال د

1 … جامع صغیر ، صفحه:353، حدیث :5725۔

2 … فتاویٰ رضویه، جلد:6، صفحه:208، ملتقطاً۔

3 … فتاوی رضویه ، جلد:22، صفحه:186 ، ملخصًا۔

4 … کشف الالتباس فی استحباب اللباس ، صفحه:14 ، جمیعت اشاعت اہلسنت۔

کوم نه چې صرف دوه يا يو وَل راشي مکروه دي- [1] **(4):** د عمامې شريفې شمله پريښودل سُنَّت دي- [2] د شملې کم از کم مقدار 4 ګوتې او زيات نه زيات د نيمې شا پورې يعني چې يو لاس وي، د حد نه زياته اوږده شمله ساتل اِسراف دے او که دا د تکبر په نيت وي نو حرام دي- [3]

## د عمامې شريفې په سر کولو فائدې

◈ عمامه شريف د مسلمانانو تاج دے ◈ د عمامې شريفې په سر کولو سره حِلم (د برداشت قوت) کښې زياتوالے راځي ◈ عمامه حُسن او ښکلا زياتوي◈ په عمامه کښې عزت او وقار دے ◈ د عمامې په سر کولو سره دوه رکعتونه کول بغير د عمامې د 70 رکعتونو نه افضل دي ◈ څوک چې د جُمعې په ورځ عمامه په سر کړي، **اللّٰه** پاک په هغه باندې رحمت فرمائي او فرښتے د هغه د پاره د بخښنې دعاګانې کوي- [4]◈ د عمامې شريفې په سر کولو سره په ويښتو باندې يخنې ګرمي او نمر وغيره اثر نۀ کوي ◈ د طِبي تحقيق مطابق د سر درد د پاره عمامه شريف په سر کول فائده منده ده ◈ د عمامې شريفې سره دماغو ته طاقت ميلاؤيږي او حافظه ورسره مضبوطيږي ◈ د عمامې شريفې په سر کولو سره دائمي نزله نۀ وي يا که وي هم نو د هغې اثر کم وي ◈ د عمامې شريفې شمله د وجود د ښکته حصې د فالج نه بچ کول کوي ځکه چې شمله حرام مغز د موسمي اثراتو مثلاً: د يخنۍ او ګرمۍ وغيره نه بچ کوي ◈ شمله د سرسام د مرض خطرې کموي- د دماغو( ***Brain*** ) د وَرَم (يعني پړسيدو) مرض ته سرسام وئيلے شي- [5]

---

1 … فتاوی رضویه، جلد:7، صفحه:299-

2 … فتاوی رضویه، جلد:12، صفحه:314۔

3 … فتاوی رضویه، جلد:22، صفحه:182، بتغیر قلیل-

4 … عمامه کے فضائل، صفحه:75 تا 101، ملتقطًا۔

5 … 550 سنتیں اور آداب:56-

## د عمامې شريفې نۀ پۀ سر کولو نقصانونه

◈ د عمامې شريفې نۀ پۀ سر کول د ډېرو فضيلتونو نه د محرومئ سبب دے ◈ د سرتور سر اوسيدو سره د يخنئ، ګرمئ او د نمر پۀ ويښتو او دماغو باندې بد اثر پريوځي، د کومو سره چې صحت ته نقصان رسيدے شي۔ [1]

## د عمامې شريفې پۀ سر کولو د عادت جوړولو طريقې

◈ د عمامې پۀ سر کولو فضيلتونه پۀ ذِهن کښې ساتئ ◈ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت زيات کړئ ◈ فيشن پرستي پريږدئ او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو اِختيارولو ذِهن جوړ کړئ ◈ د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تړون پيدا کړئ! دې سره به مو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د سُنَّتو زده کولو او پۀ دې باندې د عمل کولو ښه ډېره جذبه نصيب شي ◈ د اخرت ثواب ته نظر کوئ! بعضې وخت **ويريدل** او **خلق به څۀ وائي** د دې پۀ شان سوچ د عمامې شريفې پۀ سر کولو نه منع کوي، خو کله چې ثواب ته نظر کوئ نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د عمامې شريفې پۀ سر کولو عادت به مو جوړ شي۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نن مونږ د نيک عمل نمبر: 55 مطابق د **عمامې شريفې پۀ سر کولو** پۀ موضوع باندې ګڼه ور معلومات حاصل کړل، نيت اوکړئ چې د عمامې شريفې پۀ سر کولو سُنَّت به اِختيارو۔ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

**الله** پاک دې د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

---

[1] ... 550 سنتيں اور آداب: 56۔

# د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې یادولو والا دُعا

## پهٔ آئینه کښې د کتلو پهٔ وخت لوستلے کیدونکې دُعا

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ حَسَّنْتَ خَلْقِيْ فَحَسِّنْ خُلُقِيْ

ترجمه: اے **الله** پاکه! تا زما شکل خو ښهٔ جوړ کړے دے، زما اخلاق هم ښهٔ کړې-[1]

## د اِجتماعي جائزې طریقه (72 نیک اعمال)

### د روزانه 56 نیک اعمال:

(1): آیا ښه ښه نیتونه مو کړي؟ (2): آیا پینځه واړه نمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آیا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آیا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے یا اوریدلے؟ (5): آیا د هر نمونځ نه پس مو آیة الکرسی، تسبیحِ فاطمه، سُوْرَةُ الْاِخلاص لوستلے؟ (6): آیا د کنزُ الایمان نه مو 3 آیتونه یا مو د صِراطُ الجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسیر سره لوستلي یا اوریدلي؟ (7): آیا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آیا 313 کرته مو دُرُود شریف لوستلے؟ (9): آیا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آیا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آیا د فضول نظر نه پهٔ بچ کیدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آیا 12 منټه مو د مکتبة المدینه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آیا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آیا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آیا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آیا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آیا پهٔ تاسو او جي وئیلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آیا پهٔ مکتبة المدینه بالغان

1 ... الحصن والحصین، صفحه:102-

کښې مو لوستلي، یا مو ښودلي؟ (19): آیا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګینټو کښې کور ته رسیدلي یئ؟ (20) : آیا دوه ګینټې مو پۀ دیني کارونو باندې لګولي؟ (21): آیا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آیا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آیا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آیا د جومات درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (25): آیا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آیا د زلفو د پریښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آیا یو موټے ګیره مو پریښودې؟ (28) : آیا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰۃُ اللیل مو ادا کړي؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاښت نـمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړي؟ (36): آیا پۀ 12 دیني کارونو کښې مو د یو دیني کار ترغیب ورکړے؟ (37) : آیا د نورو نه غوښتلے شوي څیزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آیا د دروغو، غیبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آیا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ (40): آیا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آیا پۀ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آیا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئیلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آیا د صفايۍ او سلیقې خیال مو ساتلے؟ (44): آیا د مسلمانانو د عیبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آیا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسیر اوریدو /بیانولو پۀ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آیا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ اللّٰه وئیلې؟ (47): آیا چوک درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (48): آیا مور پلار او پیر او مرشد ته مو ایصالِ ثواب کړے؟ (49): آیا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آیا د ټریفک د

قوانینو پابندي مو کړې؟ (51): آیا د تنظیمي طریقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52):آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړهٔ ازارولو او پهٔ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آیا عمامه شریف مو پهٔ سر کړې؟ (56): آیا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدینه کارکردګي

❁ پهٔ لیکلو خبرې کول 12 کرته ❁ پهٔ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❁ پهٔ سترګو کښې د سترګو اچولو بغیر خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نیک اعمال

(57): آیا د اِسلامي خوئیندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه لیږلې؟ (58): آیا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې یا اوریدلې؟ (59): آیا پهٔ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آیا یومِ تعطیل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آیا د مریض یا غم زپلې تپوس یا غم خورې او د چا پهٔ وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ (62): آیا پهٔ هفته کښې مو پهٔ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ (63): آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ (64): آیا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آیا مخکښې راتلونکې او اوس د نهٔ راتلونکو اِسلامي وروڼو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟